همکاري
آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# د افغانستان سره د المان همکاري ۲۰۰۹ – ۲۰۱۹

په افغانستان کې د څو لسیزو شخړو د تاوتریخوالي په پایله کې د افغانستان د ډېرو خلکو معیشت ویجاړ شوی دی. افغانستان چې د نړۍ بېوزلو هېوادونو په ډله کې راځي، د افغان جرمن همکارۍ لپاره لومړیتوب لري. نړیواله ټولنه په افغانستان کې د ۲۰۰۱ کال راهیسې، د طالبانو رژیم له رانسکورېدلو څخه وروسته د مدني بیارغونې په برخه کې مرسته کوي. آلمان د ب**دخشان، بغلان، بلخ، کندز، سمنګان او تخار** ولایتونو او همدارنګه په مرکز کابل کې د بیارغونې ځانګړې مسؤلیتونه پر غاړه باندې اخیستلي دي. د افغانستان سره د آلمان همکارۍ پروګرام اساسي اجنډا د افغان دولت د بشري حقونو د درناوي، خوندیتوب او تضمینول، له اداري فساد سره مبارزه او مخدره توکو لمنځه وړل، د خلکو لپاره امنیت برابرول او همداراز باوري قانوني سیستم جوړول کوم چې د داخلي اتباعو لخوا د هغوی د قانوني استازي او د خدمتونو وړاندې کوونکي په توګه چې د هغوی اساسي/لومړني ارتیاوې پوره کړي، وپیژندل شي.



دغه راتلونکې افغان حکومت به خپل اتباعو ته حقوقي امنیت او راتلونکې لپاره کاري فرصتونه برابرکړي. دغه حکومت به خپل اتباعو لپاره داسې فرصتونه برابر کړي چې د هېواد په سیاسي او اقتصادي برخهو کې ګډون وکړي او مسؤلیتونه پر غاړه باندې واخلي.

آلمان له افغانستان سره د بېوزلۍ سره د مبارزې، حکومتولۍ او همداراز اقتصادي حالت ښه کولو په موخه مرسته کوي چې خو د دوامداره **ثبات او امنیت** لپاره یو ښه بنسټ جوړ کړي.

| د آلمان همکارۍ د اعدادو له ښودلو سره | غیر حکومتي ادارو ته د مالي مرستې په شمول تولیز اعداد |
|---|---|
| د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۹ کالونو تر منځ د آلمان د حکومت لخوا څه دپاسه ۴٫۲ میلیارده یورو ټولیزه پانګونه شوې | ۱۰۸ سازمانونه هغه پراختیایي پروژې پلې کوي چې د آلمان د حکومت له خوا تمویلېږي |
| د ۲۰۰۹ کال نه تر ۲۰۱۹ کاله پورې ۶۱۷ پروژې پلې شوې | ٦٧ افغاني همکاره سازمانونه |
| په افغانستان کې د افغان جرمن همکارۍ د پراختیایي خدمتونو څخه د هېواد په ۳٤ ولایتونو کې ۳۳٤ ولسوالۍ ګټه اخلي | نږدې ۲۲ میلیونه اوسېدونکي د افغان جرمن له همکارۍ څخه ګټه اخلي |

د افغان جرمن همکارۍ پروګرام د آلمان اقتصادي همکارۍ او پراختیا وزارت (BMZ) په استازیتوب د افغانستان سره د آلمان همکارۍ په درې لوی لومړیتوبونو: ښه حکومتولۍ، دوامداره اقتصادي پراختیا، ښاري پراختیا او د ښاروالۍ زیربناء په برخو کې په فعاله توګه کار کوي. پر دې سربېره، د آلمان د بهرنیو چارو وزارت له هغه پروژو څخه ثارنه کوي چې په افغانستان د بشري مرستو او ثبات راوستلو په برخو کې تطبیقېږي.

## د ۲۰۰۹ نه تر ۲۰۱۹ کال پورې د آلمان اقتصادي همکارۍ او پراختیا او د بهرنیو چارو وزارتونو مالي مرستو تفصیل پر (یورو) باندې ښودل کېږي ۱




پر دې سربېره، د آلمان فدرالي حکومت د افغانستان له بیارغونې وجهي صندوق (ARTF) سره ۵۸٦ میلیونو اضافي یورو مرسته کوي چې نړیوال بانک یې اداره کوي.

www.germancooperation-afghanistan.de

د ۲۰۱۹ کال د جولای میاشتې راهیسې، د آلماني او نړیوالو متخصصینو په شمول شاوخوا ۱٤۳۰ کارکوونکي په افغانستان کې د آلمان KfW پراختیایي بانک او همدارز د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH په تطبیقوونکي ادارو کې چې د آلمان فدرالي حکومت له خوا ګمارل شوي دي، کار کوي.

## د ۲۰۰۹ کال نه تر ۲۰۱۹ کال پورې زیربنایي اقدامونه ۲

- د **۱٤۳۰** کیلومتره (۸۸۸٫٦ میله) نه زیات سړکونه جوړ یا ترمیم شوي دي
- تر **۷٦۳** کیلومتره (۱٫٤۷٤ میله) پورې د برېښنا مزي غځول شوي یا ترمیم شوي دي چې **۱٫۲٦** میلونه وګړي ورڅخه ګټه اخلي
- **۵۸** پلونه د **۱٫۸** کیلومتره (څه دپاسه ۱٫۱ میله) اوږدوالي په اندازه بیارغول شوي یا نوي جوړ شوي دي
- د برېښنا د تولید **۲٤** کارخانې او کوچني ستیشنونه او همدارز د برېښنا **۲٤۰** سب ستیشنونه جوړ شوي یا بیارغول شوي دي
- **٤۱۷** تعلیمي انستیتوتونه جوړ، بېه یا نوي شوي دي (چې ۱۸۱ لومړني ښوونځي، ۱٦۱ ثانوي ښوونځي، ۱۸ پوهنتونونه، ٤۵ مسلکي انستیتیوتونه پکې شامل دي) شاوخوا **٤۰۰۰۰۰** کسان ورڅخه ګټه اخلي
- نږدې **٤۰۰** کیلومتره (۲٤۸٫٤ میله) د اوبو رسولو کانالونه د کرنې لپاره جوړ یا ترمیم شوي چې **٦۰۰۰۰۰** څخه زیات وګړي ورڅخه ګټه اخلي
- له **۱۰۰۰** څخه زیات د سرپناه او ودانۍ توکي داخلي بې ځایه شوي کورنیو ته ورکړل شوي دي چې د**۸۰۰۰** نه زیات کسان ورڅخه ګټه اخلي
- **۸٤** روغتونونه او روغتیایي مرکزونه جوړ یا بیارغول شوي چې له **۳ میلونه** څخه زیات اوسېدونکي ورڅخه ګټه اخلي
- د څښاک د اوبو په سکتور کې له **۸۵۰** څخه زیات سیستمونه نوي جوړ شوي یا بیارغول شوي دي چې د**۹۵۰۰۰۰** نه زیات کسان ورڅخه ګټه اخلي
- **۱۱٦**اداري او دولتي ودانۍ نوي جوړې شوي یا بیارغول شوي دي

۱ پورته ورکړل شوي عکسونو کې د غیر حکومتي خو اړخیزه سازمانونو بودیجه چې د آلمان حکومت ورکړې ده، په دې کې شامله نه ده. دغه معلومات د ۲۰۱۹ کال تر پای پورې د تخمین پر بنسټ برابر شوي او کېدای شي چې لږ څه توپیر ولري.

۲ د لومړیتوبونو برخې سره سره د پروګرام انعطاف منني او همکارۍ کې د ښوونې او روزنې پروګرامونه، د خطر مدیریت، اړیکې او همدارز نظارت او ارزیابي شامله ده.

## د ۲۰۰۹ کال نه تر ۲۰۱۹ کاله پورې مشورې ورکول، روزنه او نور لاسته راوړنې

- له **۱ میلون** څخه زیاتو کسانو ته چې له۲۱۰۰۰۰ څخه زیات یې ښځینه دي، مسلکي ښوونه او روزنه ورکړل شوې ده
- د ۲۰۱٤ او ۲۰۱۷ کالونو تر منځ نږدې **٤۰۰۰۰** زده کوونکو چې له ۸۰۰۰ څخه زیات یې ښځینه وې، مسلکي زده کړې ترلاسه کړې دي
- له**۲۱۷۰۰۰** څخه زیاتو کسانو چې له**۹۳۰۰۰** څخه زیات یې ښځینه وې، په مسلکي روزنو کې ګډون کړی دی
- شاوخوا**٦۰۰۰۰** کسانو چې له**۳۰۰۰۰** څخه زیات یې ښځینه او نارینه پولیس ول، د لیک او لوست زده کړې په کورسونو کې ګډون کړی او دغه کورسونه یې په بریالیتوب سره سرته رسولي دي
- له**۱۷۰۰۰** څخه زیاتو کسانو چې له نیمایي څخه زیات یې ښځینه وې، د جندر برابرۍ په برخه کې روزنه ترلاسه کړې ده
- په افغانستان کې د قانون واکمنۍ لپاره امانتي صندوق (LOTFA) سره آلمان همکاري کوي او هر کال شاوخوا**۲٤۰۰۰** پولیس افسرانو ته د معاشونو ورکولو په برخه کې مالي مرسته کوي
- له**۳۰۰۰۰** څخه زیاتو کسانو چې له**۱۳۰۰۰** څخه زیات یې ښځینه وې، په حقوقي سیمینارونو کې ګډون کړی دی
- له**۱۰۸۰۰۰** څخه زیات مدني قانون قضیې د حقوق مدیریتونو (حکمیت هیئت) له لارې اداره شوي دي
- د۲۰۱۰ کال راهیسې، **۱۷۳** ادغام شوي او بېرته راغلي کارپوهانو د افغانستان له **۲۰** وزارتونو او ولایتي ریاستونو سره همکاري کړې ده
- له**۲۳۰۰۰** څخه زیات د افغانستان تعلیمي سکتور کارکوونکو چې له ۱۰۰۰۰ څخه زیات یې ښځینه وې، په روزنیز کورسونو کې ګډون کړی دی
- له**۵۲۰۰۰** څخه زیاتو اداري او د وزارتونو کارکوونکو ته چې تقریباً ۱۰۰۰۰ یې ښځینه وې، پرمختللې روزنه ورکړل شوې ده
- د آلمان سره په مشوره، په کابل، هرات او شمالي ولایتونو کې **۱٦۰,۰۰** کورنیو ته د څښاک اوبو رسولو سیستم تینظیم شوی دی چې تقریباً **۱٫۲** میلونه وګړي ورڅخه ګټه اخلي

---


خپروونکي اداره: د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ)
د افغانستان/پاکستان ۳۱۲ څانګه
www.germancoopertion-afghanistan.de

نېټه: د ۲۰۱۹ کال د جولای میاشت

ادیت او اړیکه: Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH
pr-unit-afghanistan@giz.de

تطبیق کونکی
Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH